مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۱/۱۴

# د یهودو عادلانه جګړې
## (یوسل او نولسمه برخه)



(ډونالډ ټرمپ، جفري اپستین او ...)

**ولې امریکایي سیاستوال له اسراییلو، د خپل سر او مال په بیه دفاع کوي؟ (۲)**

له اسراییلو څخه د امریکایي سیاستوالو د ملاتړ بل عامل د اسراییلو او اسراییلپلوه امریکایانو لهخوا د امریکایي سیاستوالو بلک مېل(Blackmail)[1] کول دي چې په استخباراتي اصطلاح کې (بدناموونکی اسناد) ورته وایي. د دا ډول کسانو څخه یو هم امریکایي پانګهوال او جنسي مجرم، یهودتوکمه **(جفري اډوارډ اپستین) او د هغه همکاره انګرېزتوکمه (ګیلین مکسول**[2]**)** د یادولو دي چې له کم عمره نجونو سره د مهمو او مخورو کسانو جنسي اړیکو د ټینګولو او په پټه له هغوی څخه د فلمونو او انځورونو اخیستل دي.

جفري اپستین د امریکا، د ویرجین په ټاپوګانو (جزیرو) کې یو شخصي ټاپو درلود چې مساحت یې شاوخوا ۷۰ تر ۷۸ جریبه پورې ؤ. د دغې ټاپو اصلي نوم (لیټل سنټ جیمز) ؤ چې د اپستین لخوا په ۸ میلیونو ډالرو پېرودل شوی ؤ،

---

[1]: **بلک مېل** هغه عمل ته وایي چې د یو کس، ډلې یا اداري لهخوا د یو شخص په تړاؤ داسې بدناموونکي، ناقانونه یا شرموونکي مالومات په لاس کې ولري، په داسې حال کې چې هغه کس له ځانه هم نه وي خبر او وروسته د هغه پر وړاندې د فشار، ګواښ یا سیاسي کنټرول په موخه کارول کیږي تر څو مقابل لورى اړ کړي **سیاسي، مالي یا حقوقي امتیاز ورکړي.**

[2]: **ګیلین مکسویل د جفري اپستین نږدې همکاره او ملګري وه، ګیلین، د رابرټ مکسویل** لور وه چې هغه د اسراییلي استخباراتو موساد په یو جاسوسۍ مشهور ؤ. ګڼ شمېر څېړونکي په دې باور دي چې جفري اپستین او ګیلین مکسول د **جنسي اړیکو د جال په** وسیله د سیاستوالو او مخورو کسانو په تړاؤ، بدناموونکي اسناد او شواهد راټولول او دا اسناد د **صهیونیستانو د موخو د پیاوړتیا** او د اسراییلو د ګټو د خوندي ساتلو په موخه کاریدل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نوموړی ټاپو د اپستین د مالکیت پر مهال د ده په خپل نوم (د اپستین ټاپو) نومیده خو دا چې اپستین له دغې ټاپو څخه د بداخلاقیو ټاپو جوړ کړی ؤ نو **(د ګناه ټاپو) او (د بچه‌بازانو ټاپو) په نومونو وبلل شو.**

اپستین، نوموړی ټاپو د امریکا د ځینو ولسمشرانو، وکیلانو، سیاستوالو، پانګوالو او نورو مشهورو کسانو لپاره په یوه لومه یا جال بدل کړی ؤ، هغه له مهمو امریکایانو او بهرنیانو سره اړیکې ټینګولې او په خپل ټاپو کې یې میلمانه کول چې هغه مهال به یې له کم‌عمره نجونو (چې له قانوني عمر څخه یې عمرونه کم وو) په جنسي کړنو کې ښکېلول او په پټه به یې فلمونه او انځورونه تري اخیستل **چې دا د زناکاریو فلمونه او انځورونه له اپستین سره، د بدنامو اسنادو په توګه پاتې کېدل چې د اړتیا پر مهال به یې د اسراییلي صهیونستانو او امریکایي استخباراتو سي‌آی‌اې په واک کې ورکول،** طبیعي ده چې د داسې بدنامو اسنادو د نه څرګندولو په بدل کې، امریکایي چارواکي د صهیونستانو او سي‌آی‌اې هره غوښتنه باید منلې وای.

د اپستین نږدې اړیکې د امریکا له دوو ولسمشرانو، **ډونالډ ترمپ او بل کلینټن** او په بهر کې له انګریز **(شهزاده اینډرو)** سره ډېرې لانجمنې بلل شوې دي.[3]



(د امریکا پخواني ولسمشر بل کلینټن د اپستین په ټاپو کې.)

ټاکل شوې وه چې په ۲۰۲۴ز. کال کې د هغو ټولو مشهورو کسانو نومونه خپاره شي چې په محکمو د اپستین د جنسي جرمونو په اسنادو د (**John Doe** = بې‌نومه) په مستعار نوم یاد شوي وو. اټکلونه دا وو چې د ملکې دوېمې الیزابت، دربیم زوی، شهزاده اینډرو او د متحده ایالاتو پخواني ولسمشر، بل کلینټن، نومونه هم شامل وي.[4]

امریکايي پانګوال، ایلان ماسک، د ټولنیزې شبکې (ایکس) په یو پیغام کې د اپستین په موضوع کې د ډونالډ ټرمپ نوم یاد کړ.[5]

د جفري اپستین په اړه خپاره شوي اسناد څرګندوي چې ډونالډ ترمپ اته ځله د اپستین په شخصي جټ الوتکه کې سفرونه کړي وو.

د نیویارک د یوې ځارنوالې د بریښنالیک له مخې (چې نوم یې نه دی ښودل شوی) په خپرو شویو اسنادو کې، ټرمپ د اپستین په الوتکه کې «تر هغه ډېر زیات سفرونه کړي چې وړاندې یې یادونه شوې ده.»

دغه بریښنالیک چې د ۲۰۲۰ز. کال د جنورۍ په اوومه نېټه لیکل شوی، وایي چې لږترلږه څلور ځله له ګیلین مکسول[6] (چې د اپستین نږدې ملګرې وه) په دغو الوتنو کې له ټرمپ یو ځای وه.

ترامپ د ۱۹۹۰، په لسیزه او د ۲۰۰۰ زېږدیزې په لومړیو کې له اپستین سره په اړیکه کې ؤ. په دې اړه ترمپ وویل چې د دوی اړیکې د ۲۰۰۰ز. لسیزې په منځ کې پای ته رسیدلې او هغه هېڅ کله هم د دغه پانګه‌وال له ناوړه جنسي کړنو نه دی خبر.

---

[3]:Wolff, Michael (2018). *Fire and Fury: Inside the Trump White House*. New York: Henry Holt and Company. p. 53.

[4]: جفری اپستین؛ انتظار عمومی شدن چه نام‌هایی را داشته باشیم؟ *BBC News فارسی*. https://www.bbc.com/persian/articles/c3gy7q2yx5go

[5]: افشاگری ایلان ماسک: زمانش رسیده که بمب واقعاً بزرگی را منفجر کنم؛ در اسناد «اپستین» (سرمایه‌دار متهم به سوء استفاده جنسی از دختران نوجوان)، ترامپ هم هست / این دلیل واقعی منتشر نشدن آن اسناد است / روز خوبی داشته باشی، ترامپ ! *انتخاب*. ۱۵ خرداد ۱۴۰۴ . https://www.entekhab.ir

[6]: ګیلین مکسول دا مهال د ۲۰ کلونو بند سزا تېروي چې هغه د اپستین سره د کم عمره نجونو په جنسي تیریو کې مرستندویه وه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همدارنګه ټرمپ په ۲۰۲۴ز. کال کې په خپله خپرندویه شبکه (تروث سوشیال) کې لیکلي وو: «زه هېڅکله د اپستین په الوتکه کې نه یم سپور شوی او نه هم د هغه احمقانه ټاپو ته تللی یم.»[7]

هغه اسناد چې د ۲۰۲۵ز. کال د سپتمبر په میاشت کې د امریکا استازو جرګې د ډیموکراټانو د ټولنې لهخوا خپاره شول، ځرګندوي چې اپستین له مشهورو امریکایي پوهانو، چارواکو او پانګوالو هر یو: **پیټر تیل، ایلان ماسک، بل ګېټس، لارنس سمرز او سټیو بېنن** سره اړیکې لرلې.[8]

پاتې دې نه وي چې د ورځپاڼې لیکونکي، جمال خاشقجي (چې په ۲۰۱۸ز. کال کې په ترکیه کې د سعودي عربستان په سفارت کې ووژل شو) کاکا (عدانان خاشقجي) هم د اپستین له مراجعینو څخه ؤ، هغه د (مکفارلین[9]) د پېښې له اصلي دلالانو څخه ؤ.[10]

د امریکا د دوو تنو ولسمشرانو اړیکې له اپستین سره ځرګندې دي خو د امریکا نور ولسمشران او لوړپوړي چارواکي او مهم کسان هم شته چې په تړاو یې هغه اسناد او شواهد چې د اپستین له ټاپو او د هغه له استوګنځایونو څخه ترلاسه شوي دی، همداسې پټ ساتل شوي دي.
ټرمپ چې د امریکا د فاسدو ولسمشرانو څخه یو دی او د اپستین په جنسي جنایتونو کې یې برخه اخیستې ده، له آره په دې هڅه کې دی چې اړونده اسناد خپاره نه شي، ټرمپ په لومړیو کې وویل چې نوموړي اسناد به خپاره شي خو وروسته یې د ملي امنیت په پلمه چلول جوړ کړ چې د ټرمپ او د نورو ډېرو کسانو اسناد خپاره نه شول.

د اپستین جنسي جنایات هغه مهال رسوا شول چې «د ۲۰۰۵ز. کال په مارچ کې یوې ښځې شکایت او دعوه وکړه چې د هغې ۱۴ کلنه منل شوي لور، د اپستین په ماڼۍ کې له جنسي تېریو سره مخ شوي ده. هغه وو چې د فلوریډا د پام بیچ ښار پولیسو پلټنې پیل کړې.[11] دا پلټنې ۱۳ میاشتې رواني وې چې د اپستین د کور تلاشي یې هم ترسره شوه. پایله کې پولیسو وویل چې اپستین ځو نجونو ته د جنسي کړنو په بدل کې پیسې ورکړې وې. پولیسو له ۵ تنو قربانیانو او ۱۷ تنو شاهدانو سره مرکې کړې وې او هغه اسناد او توکې چې د اپستین له کوره ترلاسه شوي وو چې (دوه پټې کامرې، د نجونو ګڼ شمېر انځورونه او د **سادیسم**[12] **او مازوخیسم**[13] په اړه د کتابونو رسیدونه) په کې وو دا وښودل چې ځینې نجونې تر قانوني عمر، ۱۴کلنې څخه کمې وې.

---

[7]:https://www.tasnimnews.com/fa/news/1404/10/03/3479249
[8] :https://www.usatoday.com/story/news/politics/2025/09/26/elon-musk-peter-thiel-steve-bannon-epstein-documents/86370319007/
[9]: د امریکا د ولسمشر ریګن، د امنیت شورا مشاور مکفارلین چې په ۱۳۶۵ل. ل کال کې لبنان ته په دې موخه تللی ؤ چې په ایران د امریکایي یرغملو د خوشې کولو او پر ایران د امریکایي وسلو پلورلو په اړه خبرې وکړي، دا په داسې حال کې وو چې پر ایران د امریکایي وسلو پلورل تحریم شوي وو چې دا پېښه په ایران کې د (مکفارلین په پېښه) مشهوره شوه.
[10] :https://nymag.com/intelligencer/2019/07/jeffrey-epstein-high-society-contacts.html
[11]:Weiss, Philip (December 10, 2007). "The Fantasist". New York. Archived from the original on October 17, 2016. Retrieved November 7, 2016.
[12]: سادیزم (بلځورونه) هغه حالت ته ویل کېږي چې یو کس پر نورو د درد، کړاو، سپکاوي او یا جسمي، رواني او جنسي ځوروني خوند اخلي، دا خوند کېدای شي په جنسي یا غیرجنسي اړیکو کې رامنځ شي، سادیزم بېلابېلې بڼې او ډولونه لري، لکه لفظي، عاطفي، جسمي او جنسي ځورونه.

[13]: مازوخیزم (ځانځورونه) هغه رواني حالت دی چې یو څوک د درد، سپکاوي سزاء، یا ځوروني له زغملو څخه خوند، ارامتیا او رضایت احساسوي. که دا زیان جسمي وي که روحي او که د خپل ځان له لوري وي یا د نورو له خوا. دا حالت کېدای شي د رواني اختلال په بڼه یا د جنسي اړیکو د یوې برخې په توګه ځرګند شي، مازوخیزم له سپکو تجربو نیولې تر سختو ځاني شکنجو پورې بڼې لري چې د زیانونو د مخنیوي لپاره اوږد مهالي درملنې ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په راپوروونو کې دا هم ویل شوي وو **چې د اپستین د زوکړې د لمانځلو پر مهال له فرانسې څخه درې تنه ۱۲ کلنې نجونې هم راوستل شوې وې او جنسي تېرى پرې شوي وو.** د ۲۰۰۶ز. کال د مې په میاشت کې، پولیسو پر اپستین د ځلورو غیرقانوني جنسي اړیکو او د یو جنسي تیري تورونه ولګول.

د ۲۰۰۶ز. کال د جولاى پر ۲۷مه نېټه، اپستین د پام بېچ پولیسو لهخوا د فحشا لپاره د کمعمره ماشومانو د چمتوکولو او فحشا ته د هڅوني په تور ونیول شو خو د ۳۰۰۰ ډالرو په ضمانت خوشې شو. اپستین چې د امریکا حکومت په دننه کې ډېر اغېز او انډیوالان درلودل، له اپستین سره یې په عدلي او قضایي ادارو کې مرسته وکړه چې په دې ډله کې نوموتي وکیلانو لکه: **روى بلک، جیرالډ لفکورت، سټیون پینکر، الن درشوویتس او کینت سټار او نورو له ملاتړه برخهمن ؤ.**

بلې خوا د ۲۰۰۶ز. کال په جولاى کې، اېفبيآى هم خپلې پلټنې پیل کړې چې پایله یې د ۲۰۰۷ز. کال په جون کې د ۵۳ مخیز تورنلیک صادرېدل وو خو د څارنوال الکساندر اکوستا لهخوا ... اپستین او څلور تنه انډیوالان یې، د لګول شویو ټولو جنایي تورونو څخه معاف کړاى شول. دې پرېکړې د اېفبيآي پلټنې ودرولې ... څارنوال اکوستا وروسته وویل چې ځکه یې دا کار کړى چې ورته ویل شوي وو چې اپستین پر استخباراتي ادارو پورې تړاؤ لري چې دا پېښه د ده له واکه لوړه ده.[14]

**اپستین ومنله چې د فلوریډا په ایالتي محکمه کې د فحشا په دوو تورونو باندې اعتراف وکړي، ۱۸ میاشتې بند تېر کړي، د جنسي مجرم په توګه ثبت شي او هغو ۳۶ قربانیانو ته تاوان ورکړي** چې د اېفبيآى لهخوا پېژندل شوي وو. وروسته دا معامله د (پټې معاملې) په نوم یاده شوه.[15]

سره له دې چې اپستین یو پېژندل شوى او تورن شوى جنسي مجرم ؤ، بیا هم کلونه کلونه یې په آزاده توګه خپل جنسي جنایات کول. په ۲۰۰۸ز. کال کې اپستین ته داسې معافیت ورکړل شو چې نږدې له ټولو تورونو څخه پټ وساتل شو چې دا ښیي چې نوموړى د لوړې کچې سیاسي او استخباراتي چارواکو له ملاتړه برخمن ؤ.

اپستین له اسراییلي استخباراتو موساد او پوځي ځواکونو سره په اړیکې کې ؤ، «په ۲۰۱۵ز، کال کې اسراییلي (هاآرتص) ورځپاڼې راپور ورکړ چې اپستین په یوه اسراییلي سټارټاپ شرکت (ریپورتي هوملنډ سکیوريټي) (چې اوس د (کارباین) په نوم پېژندل کېږي) پانګونه کړې وه، هغه شرکت چې له اسراییلي پوځي ځواکونو سره یې اړیکې لرلې.[16]

ښکاره ده چې اپستین چې کوم جنسي جنایتونه تر سره کول د سيآىاې او د سراییلي استخباراتو موساد لهخوا یې کلک ملاتړ کیده، **«امریکایۍ مجلې (نېشن) راپور کې ویل شوي دي چې د جنسي قاچاق مجرم جفري اپستین له موساد او د سيآىاې له استخباراتي ادارو سره ژورې اړیکې، د اپستین د دوسیې د نورو جزییاتو د نه خپرېدو یو ښستیز څنډ بلل کېږي.** په داسې حال کې چې دغه جنسي مجرم، د ځینو رسمي دولتي چارواکو په پرتله، لوړپوړو شخصیتونو ته ښه لاسرسى درلود.

له استخباراتي ادارو سره د اپستن د اړیکو په هکله «د نومبر په ۱۹مه نېټه د جمهوريپال ګوند استازي (توماس ماسي) خبریالانو ته وویل: **اپستین بې له شکه د امریکا د متحده ایالاتو له استخباراتي ادارو او د اسراییلو له استخباراتي سازمانونو سره نږدې اړیکې لرلې.** دا حقیقت چې د امریکا او اسراییلو امنیتي ښستونو له داسې یوه ناوړه او بدنام کس سره همکاري کړې ده، ډېره خواشینوونکې ده چې د واکمنو لپاره د شرم وړ بلل کېږي چې دا د اپستین د کړنو د پټول اصلي لامل بلل کېږي.[17]

---

[14]:Raymond, Adam K. (July 16, 2019). "Lawyer: Epstein's Abuse Continued While He Was on Work Release From Jail".

[15]:هماغه

[16]:Tenbarge, Kat (July 14, 2019). "The former prime minister of Israel defended his business dealings with Jeffrey Epstein: 'You expect me to have noticed?'". Business Insider

[17]:https://www.tasnimnews.com/fa/news/1404/10/03/3478908



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په امریکا کې کینېږخې مجلې (ژاکوبین) **جفري اپستین، د اسراییلي استخباراتو یوه شتمني (Asset) وباله.** تر هغې چې په امریکا کې اپستین د اسراییلي رژیم پخواني لومړي وزیر (ایهود باراک) کوربه‌توب کاوه او له ایهود باراک سره یې د اسراییلو د دښمنانو پر وړاندې مرسته کوله... اپستین د اسراییلو، منګولیا او عاجساحل ترمنځ د امنیتي تړونونو منځګړیتوب هم کاوه.[18]

سره له دې چې اپستین د خپلو پراخو اړیکو په لرلو سره، لکه څرنګه چې باید محاکمه شوی وای محاکمه نه شو او په لومړي ځل تش په نوم په ۱۸ میاشتو بند محکوم شو خو دویم ځل «د ۲۰۱۹ز. کال د جولای په ۶مه نېټه، د جنسي قاچاق په تور بیا ونیول شو.»[19]

اپستین د ایف‌بي‌آی، د ماشومانو پر ضد د جرمونو د کاري ډلې او د نیویارک ښار د پولیسو د اداري لخوا د نیوجرسي ایالت د ټیټربورو په هوايي ډګر کې ونیول شو.

هغه د نیویارک ښار په (متروپولیټن د اصلاح او تربیې په مرکز) کې بندي شو. دا ځل د منهټن په ښار کې د هغه د مانۍ د تلاشي پر مهال، د جنسي قاچاق اسناد او شواهد وموندل شول چې په هغو کې د ښځو په سلګونو د فحاشۍ انځورونو شتون درلود چې ښځې په بشپړه او نیمه بربنډه بڼه ښکاریدلې (چې د ځینو عمرونه تر قانوني کچې ۱۴کلنۍ ښخه ټیټ ؤ.)
د اپستین د استوګنځي په پلټنه کې (۷۰٬۰۰۰) نغد امریکایي ډالر، ۴۸ د الماسو [تیرې یا غمي] او د هغه یو جعلي اتریشي پاسپورټ هم وموندل شو چې د اپستین انځور پرې لګېدلی او په بل نوم صادر شوی ؤ.

جفري اپستین د اړونده څارنوالۍ لخوا د جنسي قاچاق او د ماشومانو د جنسي اړیکو د قاچاق په تور تورن شو. اپستین د ۱۰۰ میلیونو ډالرو په ضمانت د خوشې کېدو غوښتنه وکړه خو قاضي (ریچارډ ایم. برمن) د هغه غوښتنه ونه منله، ویې ویل چې اپستین په ټولیزه توګه خطرناک کس دی، جدي احتمال شته چې [اسراییلو ته] وتښتي.

**جفري اپستین د ۲۰۱۹ز. کال د اګست په ۱۰مه نېټه، د نیویارک د مېټروپولېټن په اصلاحي مرکز، (بندخونې) په خپله کوټه کې ځان وژنه وکړه.**[20] د اپستین له مرګ یوه ورځ وړاندې، څارنوال د نویو شواهدو پر بنسټ پر هغه نوي تورونه لګولي وو. که هغه محکوم شوی وای نو تر ۴۵ کلونو پورې د بند له سزا سره به مخ شوی وای.

د نیویارک ښاروال، (بل دي بلازیو) د ۲۰۱۹ز. کال په جولای کې د اپستین د ځانوژنې د څرنګوالي په اړه د بشپړې پلټنې غوښتنه وکړه او دا یې حیرانوونکې وبلله چې هغه څرنګه وکړای شول په دومره اسانۍ سره ځان ووژني.[21]

نیویارک پوسټ ورځپاڼې، د یو پخواني بندي له قوله (چې له اپستین سره هممهاله بندي ؤ) لیکلي وو چې د منهټن د زندان په هغه ځای کې چې اپستین په کې بندي ؤ، ځانوژنه شوني نه ده.[22]

---

[18]:هماغه سرچینه.

[19]:Shallwani, Pervaiz; Briquelet, Kate; Siegel, Harry (2019 ,6 ژوئیه). "Jeffrey Epstein Arrested for Sex Trafficking of Minors". *The Daily Beast*.

[20] :https://fa.euronews.com/2019/08/10/us-financier-jeffrey-epstein-accused-of-sex-trafficking-dies-by-suicide

[21]:وب‌سایت بی‌بی‌سی فارسی افزایش سوالات و ابهامات در خصوص نحوه مرگ سرمایه‌دار معروف آمریکایی
https://www.bbc.com/persian/world-49308347

[22]:https://nypost.com/2019/08/10/former-mcc-inmate-theres-no-way-jeffrey-epstein-killed-himself /


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اپستین د مرګ په اړه د څېړونکو او چارواکو له څرګندونو ښکاري چې اپستین ځان‌وژنه نه ده کړې، بلکې په لوی لاس به وژل شوی وي. اپستین چې له ډېرو مهمو سیاسي، اقتصادي او استخباراتي شخصیتونو، ادارو او ډېرو جنایتکارانو (مافیایي) کړیو سره یې پېژندګلوي لرله او د هغو له پټو رازونو خبر ؤ، شوني ده چې د دا ډول کسانو لەخوا به له دې کبله وژل شوی وي چې د هغوی پټ رازونه څرګند نه شي. «چې دې مسئلې د هغه د ځان‌وژنې په اړه شکونه او ګومانونه راوپارول.» [23]

**د پراخو څېړنو پر بنسټ، اپستین یوازې یو اخلاقي فاسد کس نه ؤ، هغه د استخباراتو، صهیونیستي نفوذ او نړیوال بلک‌میل په خطرناکو لارو روان ؤ.** که اپستین ژوندی پاتې شوی وای او په اوږده بند محکوم وای نو د سیاسي، استخباراتي او نړیوالو شبکو نومونه، کړنې او پټ رازونه به یې رسوا کړي وای.

د اپستین له مرګ وروسته، هر څه پای ته ورسیدل او ډېرو زناکارانو د آرام ساه واخیستله، په تېره بیا، د امریکا د اوسني لیوني ولسمشر ډونالډ ټرمپ هغه بداخلاقۍ چې د اپستین په ټاپو کې یې ترسره کړي وې پټې پاتې شوې.



(ډونالډ ټرمپ، جفري اډوارډ اپستین او ...)



( جفري اپستین له ګیلین مسکول سره.)

## [د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.]

[23] https://www.theguardian.com/us-news/2019/aug/11/jeffrey-epstein-conspiracy-theories-run-riot-with-trumps-help


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ